
بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيمِ
د مولانا سعيد افغاني د سولې او تفاهم،نشراتي ارګان
www.said-afghani.org
آزاده، تولنيزه ،علمي ، فرهنګي و نشراتي ارګان
Dr.Said Afghani
د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# انجينر محب الرحمن « خطيبي »

د نشر نېټه : 5 اکتوبر 2015 م

# مه لټوه

دښمن په طبابت کې ته درمان مه لټوه
هجرې کې د تورمخو ته دوستان مه لټوه

په ورور ورور ويلو به دښمن دلاسا نه کړی
د ډنډ خړو اوبو کی ته ماهيان مه لټوه

وحشت او بربريت دی د غپلو اوازونه دي
ژوبڼ کی د ځارويو ته انسان مه لټوه

سترګی خپلی پرانيزه خيالي دنيادی ورکه که
په ځمکه چی روان يی ته اسمان مه لټوه

ته ځان سره يی واخله چی ماته کړی خپل تنده
اوبو پسی د ځکلو بيابان مه لټوه

څه چی ته کری محبه ريبی به همغه
نور خپلو تيروتنو ته برهان مه لټوه

****

محب الرحمن « خطيبي »

www.said-afghani.org بازګشت به صفحه اصلی